# ښاغلی صدیق کاوون توفاني دلوړو او سپېڅلو آرمانو نو هوډمن، نوښتګر، مخکښ او مبارز شاعر او لیکوال:

ښاغلی صدیق کاوون توفاني زموږ دهیواد په ادبي، فرهنګي او سیاسي ډګر کې یو پیاوړې، وتلې او پیژندل شوې شاعر، ادبي، فرهنګي او سیاسي شخصیت دی. دی د پښتو او دري ژبو دهغو نوښتګرو، مخکښو او نامتو لیکوالو او شاعرانو څخه دی، چې دده په آثارو او شعرونو کې ډیر لوړ علمي مفاهیم،انساني ، ټولنیز ، ملي او ادبي تصورات او افکار په ډیره خوږه ،سلیسه، ساده او روانه ژبه بیان شوي دي. د ده په شعرونو کې هنري ښکلا ،خیالونه،سمبولونه، تصویرونه او انځورونه ، تشبیهات ، کنایات، پاک او سپیڅلي احساسات، جذبات او عواطف په ډیر رنګین اوظریفانه شکل ترسیم شوي دي.

ما د کاوون صاحب یو شمیر شعرونه دانځور په شکل ترتیب کړې دي، ستاسو درنو د ادب مینه والو پام ورته را اړوم.

په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود

## ګزمه


د باد ګزمه ده د باران ګزمه ده
زمونږ په کلي د توفان ګزمه ده
بیا مې د زړه په دې تالا جونګړه
د غم ګزمه ده د خپګان ګزمه ده
نه د ګل بوی، نه د بلبل سندره
په باغ او راغ کې د خزان ګزمه ده
ترڅو به ژاړي د اغیارو ستم
زړګیه، تم شه، د جانان ګزمه ده
په ګلو اوري د سکروټو ږلۍ
د خدای حرم کې د شیطان ګزمه ده
ژاړي په سرو سترګو نیمزالې غوټۍ
په چمن ګډه د تالان ګزمه ده
نه میکده او نه کعبه پاتې شوه
کله د "شیخ" کله د "خان" ګزمه ده



**شاعر: صدیق کاوون توفاني**
**ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود**

## د تروږمیو بهیر

ستا دزلفو سلسلې مې د یادونو سلسلې شوې
دیوې شیبې خنداوه، د غمونو سلسلې شوې
سپوږمۍ مخ دې رابښکاره که، دتیارې شپې له کندوه
چې د لمر زرینې څپې، د دودونو سلسلې شوې
په نمجنو سترګو ځارم، دآشنا دقدم لاره
خو وعدې دنن سبا یې، دکلونو سلسلې شوې
دا بهیر د تروږمیو، درښا په کاله راغی؟
ک شیبې د خوشالیو، د ویرونو سلسلې شوې
په ویجاړه میکده کې، نه ساقي او نه صهباشته
دکوثر دامید تنده، دعمرونو سلسلې شوې
له جنته راوتلی، د دوزخ په څنډو ګرځم
هم ثواب او هم ګناه مې، د اورونو سلسلې شوې
ما یې زلفې بښکلولې، په خندا یې راته وویل
چې کاوونه دا دې پښوته، د دامونو سلسلې شوې



شاعر: صدیق کاوون توفاني
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود







# ګزمه

د بـاد ګـزمـه ده د بـاران ګـزمـه ده

زموږ په کلی د توفان ګزمه ده

بیا مې د زړه په دي تالا جونګړه

د غم ګزمه ده د خپګان ګزمه ده

نه د ګل بوی، نه د بلبل سندره

په باغ او راغ کې د خزان ګزمه ده

تر څو به ژاړي د اغیارو ستم

زړګیه، تم شه، د جانان ګزمه ده

په ګلو اوري د سکروټو ږلۍ

د خدای حرم کې د شیطان ګزمه ده

ژاړي په سرو سترګو نیمزالې غوټۍ

په چمن ګډه د تالان ګزمه ده

نه میکده او نه کعبه پاتې شوه

کله د "شیخ" کله د "خان" ګزمه ده

آلمان (۱۹/۵/۱۹۹۲)

# د تروږمیو بهیر

ستا دزلفو سلسلې مې د یادونو سلسلې شوې

دیوې شیبې خنداوه، د غمونو سلسلې شوې

سپوږمۍ مخ دې راښکاره که، دتیارې شپې له کنډوه
چې د لمر زرینې څنې، د دودونو سلسلې شوې

په نمجنو سترګو څارم، دآشنا دقدم لاره
خو وعدې دنن سبا يې، دکلونو سلسلې شوې

دا بهير د تروږمیو ، درښا په کاله راغی؟
ک شیبې د خوشالیو ، د ویرونو سلسلې شوې

په ویجاړه میکده کې، نه ساقي اونه صهباشته
دکوثر دامید تنده، دعمرونو سلسلې شوې

له جنته راوتلی، د دوزخ په څنډوګرځم
هم ثواب اوهم ګناه مې، د اورونو سلسلې شوې

ما يې زلفې ښکلولې، په خندا يې راته وويل
چې کاوونه دا دې پېښوته، د دامونو سلسلې شوې

# مړې ډیوې

ساقي دروغجنې دې وعدې شوې، ډیوې بلې نه شوې
په میکده کې ډیوې مړې شوې، ډیوې بلې نه شوې

خمونه تش، پیالې نسکورې، میکدې ویجاړې
بیا د زاړه زاهد دورې شوې، ډیوې بلې نه شوې

سپوږمۍ په وریځو کې ویده، ستوري دودونو کې پټ

د تورې شپې زلفې خورې شوې، ډیوې بلې نه شوې

تشه بیدیا ده نه لیلا نه یې کیږدۍ شته پکې

مجنونه! خاورې دې اسرې شوې، ډیوې بلې نه شوې

یوه سپرغۍ وه ځلیدله د ایرو په منځ کې

اوس هرې خوا ته سرې لمبې شوې، ډیوې بلې نه شوې

باغ کې چوپتیا ده، ونې زانګي د ماتم په څنګ

د ژمي شپې څومره اوږدې شوې، ډیوې بلې نه شوې

چایې په یاد چیرته نه شمه او نه ګل کیښووده

د سرو غاټولو مرۍ پرې شوې، ډیوې بلې نه شوې

د جانان غمه د زړه کور راته روښانه که ته

بیا تور ماښام، تورې تیارې شوې، ډیوې بلې نه شوې

# توره سیلۍ

بادونه دي، غوغا کوي باغونه، رژوي

شنې ونې لوټوي، رنګین ګلونه، رژوي

وږمې پرون راوړې وپیغام د غوړیدو

نن توره سیلۍ راغله، بهارونه رژوي

یو باد دی را الوتی له سرابه د وعدو

په شونډو د جانان مې ځوابونه، رژوې

د حسن له جلوې نه یې زاهد نه دی خبر

سجدې پیکه کوي او ایمانونه رژوي

راووت له مسجده، شو دېره په خرابات

دخم په پښو کې رغړي، ثوابونه رژوي

نه ویره له سکروټو او نه تنده د کوثر

ملا دتخت له پاسه خمارونه رژوي

ښکار یږي چې تش یاد یې هم، په ما نه دی پېرزو

رقیب مې دجانان کوڅه کې پلونه رژوي

دسترګو په آسمان کې یې بیا ستوري شول رابر

شوګیر یې راته ښکاري چې خوبونه رژوي.

په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود